# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د فلسطين د مسلې په اړه د پاکستان د حکامو کمزوری دریځ

(ژباړه)

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر جلیل عباس جیلاني، ټینګار کوي چې حکومت يې له يهوديانو سره د اړیکو پر عادي کولو غور نه کوي. دی وايي چې د فلسطين د مسلې په اړه يې د هیواد دریځ ثابت دی. نوموړی ادعا کوي چې هېواد يې تر ۱۹٦٧م کال وړاندې پولو له مخې خپلواک دولت جوړولو په اړه د فلسطين د خلکو حق ته ژمن دی. جیلاني د ۲۰۲۳م کال د سپټمبر په ۲۸مه وویل: «د اسرایلو په اړه زموږ په پالیسي کې هیڅ بدلون نه دی راغلی... زموږ پالیسي د فلسطين د خلکو له حقونو سره تړلې ده... هرکله چې په دې اړه پريکړه کوو، خپلو ملي ګټو ته به لومړيتوب ورکوو».

ښکاره ده چې د پاکستان حکام د فلسطين د مسلې -د اسلامي امت مسلې- په اړه خپل کمزوري دریځ ته دوام ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې دوی د فلسطين د خونديتوب لپاره د لويو او جدي کارونو د ترسره کولو وړتيا لري. پاکستان يو ځواکمن هيواد دی؛ پياوړی پوځ لري او دغه پوځ له اسلام او فلسطين سره مينه لري. پاکستان مرګونې وسلې لري چې پر دښمنانو ويره خورولی شي؛ ځکه چې يو اټومي دولت دی. دا هيواد يوازې په څو ساعتونو کې د فلسطين او فلسطينيانو غميزه ختمولی شي. پاکستان دا وړتيا لري چې ټول فلسطين د يهوديانو له ناوړه وجود څخه ازاد کړي؛ ځکه چې پوځونه يې د مسجد الاقصی په څنډه کې د شهادت تږي دي. دا کوم انتخاب او داوطلبانه کار نه دی؛ بلکې دنده او مکلفيت يې دی. د فلسطين مسله يوازې د فلسطين د بې دفاع وګړو مسله نه ده؛ يوازې د فلسطين د ازادۍ خاين سازمان او فلسطيني ادارې مسله نه ده. دا يوازې د عربو او نورو اسلامي هېوادونو د غلامو حکامو مسله نه ده. بلکې په جمعي توګه د ستر اسلامي امت او د پاکستان د پياوړي پوځ په مشرۍ د ځواکمنو مسلمانو پوځونو مسله ده.

د پاکستان حکام چې د سولې د نوښتونو د ملاتړ او تر ۱۹٦٧م کال وړاندې د فلسطين دولت د پولو په اړه کومې خبرې کوي، د فلسطين او فلسطينيانو ملاتړ نه دی؛ بلکې د فلسطين د مسلې د حل لپاره امريکايي حللاره ده. دا د فلسطين درې پر څلورمه برخه باندې د يهودي دولت کنټرول ته د مشروعيت ورکولو په معنی ده؛ په بدل کې به يې فلسطيني ادارې ته يو کمزوری دولت پاتې کېږي لکه اوس چې دی يا چې څه ورته پاتې دي. اوس خو يوه کوچنۍ سيمه ده چې نه پر ځمکه حاکميت لري، نه پر هوا او نه ان تر ځمکې لاندې. يو داسې کوچنی دولت

دی چې نه پوځ لري، نه ځواک او نه کنټرول. دا د یهودو تر تېغ او اقتدار لاندې یوازې د کاغذ پر مخ دولت دی چې ان پر مسجدالاقصی-د مسلمانانو لومړنۍ قبلې او زموږ د پیغمبر صلي الله علیه وسلم د شپې سفر مقصد- کنټرول نه لري.

فلسطین، الاقصی او فلسطینیان له اشغال څخه بشپړ خلاصون ته اړتیا لري او دا کار هغه شونی دی چې د یهودي دولت جرړې وایستل شي. دا داسې مسله ده چې ځواک، پوځونو او د عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه په څیر صالح واکمن –چې لومړی ځل یې دا فتح وکړه- ته اړتیا لري. دا د اتل صلاح الدین ایوبي په څېر صالح د پوځ مشر ته اړتیا لري چې القصی یې له صلیبیانو ازاد کړ. دا د سلطان عبد الحمید الثاني په څیر مشر ته اړتیا لري چې د خپل ژوند تر وروستۍ ساه پورې یې د الاقصی حرمت وساته. د امت د مسلې په اړه باید په پوځ کې مخلصین لومړی اقدام وکړي او امت ته خپل غصب شوی حاکمیت بیرته راوګرځوي، ترڅو یو صالح خلیفه خپل پوځ د القدس او نورو اشغال شویو ځمکو؛ لکه کشمیر، پر لور وخوځوي.

له یهودو سره د اړیکو عادي کولو داسې رد چې د هغوی پر لور پوځونه ونه خوځول شي؛ سترګو ته خاورې شیندل دي. سمه ده چې د اړیکو نه عادي کول وروستی اقدام دی چې حکام یې د فلسطین د ملاتړ لپاره پلمه کوي؛ سمه ده چې د اړیکو عادي کولو ته غاړه نه ایښودل یو شرعي مکلفیت دی؛ دا هم سمه ده چې هر هغه څوک چې اړیکې عادي کوي، باید د مجرم او خاین په توګه وغندل شي. خو د پوځ په مشرانو کې د واک او ځاک لرونکو لپاره دا کافي نه ده. د دوی مسولیت تر دې لوی دی؛ دوی باید فلسطین بشپړ ازاد کړي!

په پاکستان کې د اسلام سرتېرو؛ د دنیا او اخرت د ویاړ لپاره را وړاندې شئ! د ازادی، جهاد او د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره شهادت ته را ودانګئ! د الله سبحانه وتعالی د دین پیاوړي کولو او پر مسجد الاقصی او نورو اسلامي هېوادونو د اسلام د بیرغ رپولو لپاره را وړاندې شئ.

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ الله اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ * إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ]**

**ژباړه:** *«اې مومنانو! پر تاسو څه شوي چې کله تاسو ته د الله تعالی په لاره کې د وتلو لپاره وویل شول، نو تاسو پر ځمکه درانه کښېناستلئ؟-ایا تاسو د اخرت په مقابل کې د دنیا ژوند غوره کړی دی؟-که داسې ده نو تاسو ته دې معلومه وي چې د دنیوي ژوند دا ټول وسایل به په اخرت کې ډېر لږ راووځي. که تاسو نه پاڅئ نو الله*

*تعالی به تاسو ته له درد څخه ډکه سزا درکړي، ستاسو پر ځای به کوم بل قوم راپاڅوي او تاسو به الله تعالی ته هیڅ زیان ونه شی رسولی. الله سبحانه وتعالی پر هرڅه قادر دی.»* [توبه: ۳۸-۳۹]

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۳مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۸مه**

**د صدور ګڼه: ۴۵/۱۲**

**ژباړن: فریدون محتاط**